د تړون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا

موضوع: د افغانستان بانک اړوندو ساحو د سپتیک څاه ګانو د تخلیې پروسې د ابراهیم مجیب خدماتو او حفظ مراقبت شرکت ته د تړون ورکولو د پرېکړې خبرتیا:

د تدارکاتو قانون د درې څلویښتمې مادې د دویمې فقرې له مخې، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د افغانستان بانک په پام کې لري، دافغانستان بانک اړوندو ساحو د سپتیک څاه ګانو تخلیې پروسې تړون د ابراهیم مجیب خدماتو او حفظ مراقبت شرکت ته ورکړي، یاد شرکت د 98061 شمېرې جواز لرونکی دی او اصلي ځای یی د کابل مرکز ، دارالامان ده دانا کې دی. دغه تړون په ټولیزه بیه (784,300) اووه سوه څلور اتیا زره او درې سوه افغانۍ ورکول کیږي.

هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې برخه کې هر ډول نیوکه ولري، کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې له مخې خپل نیوکه د دلایلو په یادولو سره په لیکلې بڼه د دې اعلان د خپریدو له نېټې څخه تر اوو (۷) تقویمي ورځو پورې د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په معنا نه ده او تر هغه چې پورته یاده شوې موده بشپړه نه شي او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به تړون نه عقد کیږی.